واورئ او اطاعت وکړئ، پر هغوی د هغه مسوولیت دی چې ورتر غاړې دي او پر تاسو د هغه څه مسوولیت دی چې در ترغاړې دي

له وائل الحضرمي څخه روایت دی وایي چې: سلمه بن یزید الجعفي رضي الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه، ویې ویل: اې د الله نبي، مور ته خبر راکړه چې که چېرته پر مور داسې حاکمان مقرر شي چې زمور څخه د خپلو حقونو غوښتنه کوي خو مور ته زمور د حقونو له راکولو انکار کوي، نو ته مور ته څه امر کوې؟ هغه ترې مخ واړاوه، بیا یې ترې پوښتنه وکړه، هغه ترې مخ واړاوه، هغه ترې بیا په دویم او یا دریم ځل پوښتنه وکړه، نو اشعث بن قیس راکش کړ، هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: « واورئ او اطاعت وکړئ، پر هغوی د هغه مسوولیت دی چې ورتر غاړې دي او پر تاسو د هغه څه مسوولیت دی چې در ترغاړې دي».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د هغو امراوو په اړه پوښتنه وشوه چې له خلکو څخه د خپلو حقونو غوښتنه کوي چې ترې واوري او پیروي یې وکړي، خو هغه حقونه چې پر دوی دي؛ هغه منع کوي؛ چې باید عدل وکړي، غنیمت ورکړي، مظلومانو ته یې حقونه وروګرځوي او عدالت برقرار کړي، نو مور ته څه امر کوې چې څه ورسره وکړو؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې مخ وګرځاوه؛ لکه چې دا پوښتنې یې بدې وګڼلې، خو پوښتونکي ترې په دویم او دریم ځل پوښتنه وکړه، نو اشعث بن قیس رضي الله عنه دا پوښتونکی راکش کړ چې چوپ یې کړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم جواب ورکړ او ویې فرمایل: د هغوی وینا ته غوږ ونیسئ او د امر اطاعت یې وکړئ؛ یقینا پر هغوی د هغه څه ځواب ویل دي چې هغوی ته ورترغاړې دي لکه عدل کول او رعیت ته خپل حق ورکول، او پر تاسو هغه څه دي چې در ترغاړې دي لکه له هغوی څخه پیروي کول، د حقونو ادا کول او پر ازمېښتونو صبر کول.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5037